## د کریمنالستیک اړوند د ځینو ضروري اصطلاحاتو تعریفونه

د جزایي اجراآتو قانون د څلورمې مادې له مخې راتلونکی اصطلاحګانې لاندې مفاهم افاده کوي:

**لومړی) د جرم کشف:** هغه اجراآت دي، چې د جرم له ارتکاب څخه د مخنیوي او د هغه د مرتکب د تشخیص، د ارتکاب د ډول او علت، د ځای د تثبیت او په ارتکاب شوي جرم پورې د اړوندو آثارو او شیانو د ساتنې په منظور صورت مومي.

**دویم) د قضایي ضبط مامور:** هغه شخص دی، چې د قانون د حکمونو په حدودو کې د اثباتیه دلایلو د راټولولو او د استجواب واک لري او عبارت دي له:

- پولیس.
- د ملي امنیت د لوی ریاست مؤظف.
- د پلټنې د عالي اداري پلټونکی.
- د وزارتونو او دولتي ادارو د داخلي پلټنې مؤظف.
- د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د اداري مؤظف.

**درېیم) جزایي دعوې:** د دې قانون د حکمونو مطابق د محکمې په وړاندې د څارنوال له خوا د مجازاتو غوښتنه ده.

**څلورم) د جرم تحقیق:** د قانون د حکمونو په حدودو کې د څارنوال په واسطه، د راټولو شویو دلایلو پر بنسټ له تورن څخه د استنطاق او استجواب، د شهودو او ناظرینو د بیانونو او اظهاراتو د اورېدلو، د جرم د پېښېدو یا نه پېښېدو د تثبیت په منظور د راټولو شوو دلایلو د ارزونې، د مرتکب د پېژندلو او تورن ته د تور د انتسابولو له لارې د جرمي واقعې هر اړخیزه څېړنه ده.

**پنځم) پلټنه:** د مظنون یا تورن د نیولو، د شیانو د ضبطولو او د جرم د مدارکو د ساتلو په منظور د اماکنو، شیانو او سندونو لټول (پلټل) دي.

**شپږم) تلاشي:** د جرمي مدارکو د ترلاسه کولو په منظور د شخص د بدن، جامو، محمولې او د حمل او نقل د وسایلو لټول دي.

**اووم) د دعوې اړخونه:** څارنوال متضرر (زیان مېندونکی)، د حق العبد مدعي او یا د متضرر یا د حق العبد مدعي قانوني استازي له یوې خوا او تورن او د حق العبد مسوول له بلې خوا څخه دي.

**اتم) د پاڼو (دوسیې) حفظول:** هغه تصمیم دی، چې د څارنوال په واسطه د تحقیق د بشپړولو او د جزایي دعوې د اقامې د زمینې د برابرولو په منظور د اړوندو اجراآتو د ځنډولو (مؤقتي حفظ) او یا د مظنون یا تورن په هکله د جزایي دعوې اقامې د نه لزوم د قرار د صادرولو پر مبنی نیول کېږي.

**نهم) محاکمه:** دعوې ته رسیده ګي، دعوې دفع او د حکم صادرېدل دي، چې د واکمنې محکمې لخوا د قانون د حکمونو مطابق، صورت مومي.

**لسم) قرار:** هغه تصمیم دی، چې د قانون حکمونو مطابق، د تحقیق په پړاو کې د څارنوالی په واسطه او د محاکمې په بهیر کې د محکمې لخوا، د جزایي دعوې د تحریک او تعقیب یا له هغې څخه د انصراف یا نورو اړوندو مواردو په هکله، نیول کېږي.

**یوولسم) مظنون:** هغه شخص دی، چې جرم د ارتکاب په نسبت د بدګومانی (سؤظن) پر بنسټ تر اشتباه لاندې راغلی وي، یا دا چې هغه ته د تور (اتهام) له نسبت ورکولو دمخه، د ده په هکله احتیاطي تدبیرونه نیول شوي وي.

**دولسم) استنطاق:** د قانون د حکمونو په حدودو کې د جرم د ارتکاب، د عمل د ډول او انګېزې په اړه له مظنون څخه د حقایقو د بیانولو غوښتنه ده.

**دیارلسم) متهم (تورن):** هغه شخص دی، چې د تحقیق پروخت د اثبات د راټولو شوو دلایلو د ارزونې پر بناء، د جرم د مرتکب په توګه تشخیص او تور پرې لګېدلی وي.

**څوارلسم) اتهام لیک:** هغه لیکلی سند دی، چې د تحقیق په پایله کې د اړوند څارنوال له خوا، په پاڼو کې درج د جرم د اثباتیه دلایلو په یادولو او د قانون د موادو په یادولو سره چې جرم او جزا یې ټاکلې ده، ترتیب او په ضمن کې یې د مظنون د محاکمې غوښتنه کېږي.

**پنځلسم) صورت دعوې:** هغه لیکلی سند دی، چې په ترڅ (ضمن) کې یې څارنوال د ارتکاب شوي جرم ډول، د تورن د اهلیت، خصوصیاتو او جزایي مسوولیت، د اثبات د دلایلو او د قانون د هغو موادو چې جرم او جزاء یې ټاکلې په یادولو سره له واکمنې محکمې څخه د تورن مجازات غواړي.

**شپاړلسم) مجني علیه:** هغه شخص دی، چې د جرم د ارتکاب له امله هغه ته جسمي، مادي یا معنوي زیان رسېدلی وي.

**اوولسم) اقارب(خپلوان):** زوج او زوجه او یو بل ته د هغوی اصول او فروع تر دویمې درجې پورې، پلار، مور او د هغوی خور، کاکا، ماما، خاله، عمه او د هغوی فروع تر دویمې درجې پورې دي.

**اتلسم) قانوني استازي:** مدافع وکیل، حقوقي مساعد، ولي، وصي او قیم په کې شامل دي.

**نوولسم) ضبط:** د منقولو او غیرمنقولو مالونو مؤقتي حفظول او ساتنه ده، چې د قانون د حکم مطابق د واکمنې مرجع په واسطه صورت نیسي.

**شلم) مصادره:** د محکوم علیه د منقولو یا غیرمنقولو مالونو جبري او بلا عوضه اخیستل دي، چې د قانون د حکمونو او واکمنې محکمې د پرېکړې مطابق د هغوی مالکیت دولت ته لېږدول کېږي.

**یوویشتم) حق العبد مدعي:** هغه شخص دی، چې د غیر د جرم د فعل د ارتکاب له امله زیان شوی او پر مرتکب یا د حق العبد پر مسوول د زیان (خسارې) د جبران د دعوې حق ولري.

**دوه ویشتم) د حق العبد مسوول:** هغه شخص دی، چې د غیر د جرم یا فعل د ارتکاب له امله د زیانمن شوي د مادي زیان د جبران مسوول پېژندل کېږي.

**درویشتم) محکوم علیه:** هغه شخص دی، چې واکمنې محکمې د قانون د حکمونو مطابق هغه په ملزوم والي حکم کړی وي.

**څلورویشتم) محکوم له:** هغه شخص دی، چې واکمنې محکمې د قانون د حکمونو مطابق د هغه په گټه حکم کړی وي.

**پنځه ویشتم) محکوم بها:** هغه تکلیف دی، چې محکمې د قانون د حکمونو مطابق د هغه په تعمیل حکم کړی وي.

**شپږ ویشتم) برائت:** هغه حالت دی، چې محکمه د اثباتیه د دلایلو د نه شتون پر بناء په هماغې قضیې کې د تورن پر بې گناهۍ او د تور په ردولو حکم کړی وي.

**اووه ویشتم) څارنه (نظارت):** د جرم د کشف په پړاو کې د پولیسو له خوا په لنډمهاله توگه د مظنون ساتنه او تر نظر لاندې درلودل دي، په هغه ځای کې چې د قانون د حکم مطابق یې هغه ته اختصاص موندلی دی.

**اته ویشتم) توقیف:** د تحقیق او عدلي تعقیب په پړاونو کې د څارنوال یا محکمې په امر په لنډمهاله توگه د مظنون یا تورن ساتنه او د ازادۍ سلبول دي، په هغه ځای کې چې د قانون د حکم مطابق یې هغه ته اختصاص موندلی دی.

**نهه ویشتم) حجز:** په رواني ناروغیو یا عقلي ضعف د اخته کېدو یا د صغارت له امله د محکوم علیه ساتنه ده، په هغه ځای کې چې د قانون د حکمونو مطابق یې هغه ته اختصاص موندلی دی.

**دېرشم) مدارک:** هغه اثار، علایم (نښې نښانې)، شواهد او شیان دي، چې د جرم د ارتکاب د ځای یا بل ځای یا د مظنون یا تورن له ځان (بدن) او یا جامو څخه لاسته راځي او د اهل خبره له خوا د تخصصي کتنو په پایله کې له جرم یا مرتکب سره مرتبط تشخیص شوی وي.

**یودیرشم) سندونه:** د تحقیق د پاڼو، د اهل خبره د رپوټ، د محکمې د قرار یا حکم، لیکنو، کتاب او یا هغو ته د ورته په شمول هغه پاڼې دي، چې د رسمي یا خصوصي معلوماتو لرونکي وي.

**دوه دیرشم) شهادت:** هغه ویناوې دي، چې شخص هغه څه، چې د بحث وړ پېښې په برخه کې په لیدلو (کتلو) یا اورېدلو سره درک کړي دي، د قضیې د څېړنې په بهیر کې د واکمنې محکمې په وړاندې د سوګند په اداکولو سره بیان کړي. د ګونګ په هکله لیکنه او اشاره د بیان د حکم کې دي.

**دري دیرشم) اهل خبره:** هغه مسلکي یا فني شخص دی، چې په ټاکلې رشته (څانګه) کې د تخصص، کافي معلوماتو او تجربې لرونکی وي.

**څلوردیرشم) عدلي تعقیب:** د جرمي پېښې او د هغې د مرتکب تعقیبول دي، چې د کشف اجراآت او د جرم تحقیق، محاکمه او د حکم تنفیذ پکې شاملېږي.

**پنځه دیرشم) اقرار:** د واکمنې محکمې په وړاندې له اکره پرته، په بشپړ رضایت او د عقل د صحت په حالت کې د جرم په ارتکاب اعتراف دی.

**شپږ دیرشم) مرور زمان:** د قانوني ټاکلې وخت مودې تېرېدل دي، چې له امله یې جزایي دعوې یا د مجازاتو تنفیذ د دې قانون د حکمونو مطابق ساقطېږي.